# ويـره

## خلـيـل جبـران

وئيلے شي درياب چې سمندر ته داخلېږي
په زړۀ کښې وارخطا وي او ويرېږي او رپېږي

په شاته چې دۀ کړے وي تر دې مزل ته ګوري
په غرونو ځنګلونو د مودې مزل ته ګوري

بل خوا ته مخامخ په سمندر کښې ګډېدل دي
په دغې کښې مدام له سر خوړل او ورکېدل دي

دے ګوري چې د بيرته تللو نشته هيڅ امکان
درياب په روستو نۀ ځي تل په مخه وي روان

نو دے په سمندر کښې ډوبېدو ته ځان تيار کړي
د ځان نه سمندر راجوړېدو ته ځان تيار کړي

دا نۀ چې سمندر ته پرېوتل فنا کېدل دي
په دې کښې ګډېدل خو شته کېدل دي، شته کېدل دي.

**ژباړه: ډاکټر اباسين يوسفزے**

KAHANI CHAMAN